# په روغتون کي بستر کول د ارزيابي دپاره

(د 1983 د دماغي روغتيا لايحه 2 برخه)

| | |
|---|---|
| 1. د ناروغ نوم | |
| 2. د هغه کس نوم چه ستاسو مواظبت صلاحيت لري (ستاسو َ د معالجي د پاره مسئول شخص) | |
| 3. د روغتون نوم او برخه | |

## ولي زه په روغتون کي يم؟

تاسو د 1983 د دماغي ناروغي د لايحی تر 2 برخی لاندي په دغه روغتون کي ساتل کيږي. تاسو د دوه داکټرانو تر کتني لاندي معاينه کيږي او دوي فکر کوي چه تاسو يوه دماغي ناروغي لري او تاسو بايد په روغتون کي پاته شي څکه ستاسو د مواظبت مسئول کس (ستاسود معالجي د پاره مسئول شخص) څيرنه کوي چي ستاسو د ناروغي څه علت دي او څرنګه تاسو سره مرسته کولاي شي.

## څومره مده به زه دلته پاته شم؟

تاسو دلته تر 28 ورځو پوري ساتل کيږي.

د دغه مودي په جريان کي تاسودا ځاي ترک کولاي نه شي بغير د هغه نه چه ستاسو د معالجي د پاره مسئول شخص تاسو ته ووايي چه تاسو کولاي شي. که چيري تاسو وغواړي چه دا ځاي ترک کړي کارکونکي تاسو ته راګرځولي شي، او که چيري تاسو ترک کړي وي تاسو بيرته راوړل کيږي.

که چيري تاسو د پخوا نه د دماغي روغتيائي لايحه تر 4 برخي لاندي په روغتون کي ساتل شوي ياست، پس له دي نه هغه موده چه تاسو په روغتون کي مخ کي تيره کړي دي د 28 ورځو يوه برخه حساب کيږي.

| |
|---|
| نيټه: |

## وروسته به څه کیږي؟

ستاسو د معالجي د پاره مسئول شخص کیداي شي چه تاسو ته ووایي که چیري دوي فکر وکړي چه ستاسو روغتیا په کافي توګه ښه شوي ده چه روغتون ترک کړي. دا دغه 28 ورځو په جریان کي په هر وخت امکان لري.

ستاسو د معالجي د پاره مسئول شخص کولاي شي چه فیصله وکړي چه تاسو ضرورت لري چه د 28 ورځو نه ډیر په روغتون کي پاته شي، چه په دي صورت ممکن تاسو په روغتون کي د دماغي روغتیا د لایحي تر 3 برخي لاندي ساتل کیږي. دوي باید دغه فیصله د دغو 28 ورځو د ختم څخه د مخه وکړل. که چیري دغه رامنځ ته شوه، تاسو ته نور نشریه ورکول کیږي چه په کي تشریح شوي چي دغه څه معني لري.

## څه علاج ماته راکول کیږي؟

ستاسو د معالجي د پاره مسئول شخص او نور د کارکونکي ډلي غړي تاسو ته د هر علاج په باره کي چه دوي فکر کوي چه تاسو ضرورت راته لري خبري کوي. په اکثر قضایاو کي تاسي مجبور یاست چه د دوي مشوري ومني.

دلته مختلف مقررات د ځیني خاص علاج دپاره وجود لري، لکه د برقي ټکان ورکولوعلاج (ECT). که چیري کارکونکي فکر وکړي چه تاسو یوه خاص علاج ته ضرورت لري، مقررات تاسو ته تشریح کوي او تاسو ته یوه بل نشریه درکول کیږي.

## ایا زه درخواست کولاي شم؟

هو تاسو د هغه فیصلي په مقابل کي چه تاسو تر 2 برخه لاندي په روغتون کي ساتل کیږي درخواست کولاي شي.

که داسي وکړي، تاسو کولاي شي چه د روغتون د منیجرانو نه وغواړي چه تاسو ته د روغتون د ترک کولو اجازت درکړي. تاسو دغه په هره وخت کولاي شي. د روغتون منیجران د هغو خلکو یو خاص کمیته دي چه د روغتون په د ننه کي فیصله کوي چه ایا دغه خلک باید په روغتون کي وساتل شي. دوي غواړي چه تاسو سره د روغتون د ترک کولو د اجازه د فیصلي څخه د مخه خبري وکړي.

تاسو کولاي شي چه په لاندي ډول د روغتون منیجرانو ته ولیکي:

| |
|---|
| |

او یا تاسو کولاي شي چه د کارکونکي ډلي یوه غړي څخه غوښتنه وکړي چه تاسو ته د روغتون د منیجرانو سره د ارتباط په هکله مرسته وکړي.

ستاسو نژدي قریبان هم کولاي شي چه د روغتون د منیجرانو دپاره خط ولیکي چه ووایي چه دوي غواړي چه تاسو ته د روغتون د ترک کولو اجازه ورکړل شي. دغه نشریه زیادتر تشریح کوي چه څوک ستاسو نژدي قریبان دي. که چیري ستاسو نژدي قریبان دغه کارکوي، د روغتون منیجران باید تاسو ته د 72 ساعتو په جریان د ترک کولو اجازه ورکړي چه بغیر د هغه نه ستاسو د معالجي د پاره مسئول شخص دوي ته ووایي چه دغه کیداي شي ستاسو د ځان دپاره او د نورو د خلکو دپاره خطرناک وي که چیري تاسو ته د ترک کولو اجازه ورکول کیږي. که چیري دغه رامنځ ته شوه، بیا نوري شپږ میاشتي په کار دي چه ستاسو نژدي قریبان قادر وي چه د روغتون منیجرانو ته بیا ووایي چه دوي غواړي چه تاسو روغتون ترک کړي، که چیري تاسو تراوسه پوري هم په روغتون کي ساتل کیږي.

همدا راز تاسو کولاي شي چه د محکمي دادگاه څخه غوښتنه وکړي چي فیصله وکړي چه تاسي د يوه اوږده مده دپاره په روغتون کي پاته نشي.  تاسو کولاي شي چه محکمي څخه دا غوښتنه په روغتون کي د 28 ورځو د پاته کيدو د مودي په لومړيو 14 ورځو کي وکړي.

## د محکمي دادګاه څه شي دي او څه پيشيږي؟

د محکمي دادګاه يو مستقل هيئت دي چه کولاي شي  فيصله وکړي چه ايا تاسو ته بايد اجازه درکړل شي چه روغتون  ترک کړي.   کيداي شي چه دوي ستاسو سره او د روغتون د کارکنانو سره چه تاسو وپيژني يو مجلس ونيسي.  دغه مجلس د ٌاوريدلٌ  مچلس تاسو سره په نامه ياديږي. تاسو کولاي شي چه ځيني نورو کسانو ته  غوشتنه وکړي چه دوي د تاسو د اوريدلو د مرستي لپاره ته راشي، که چيري تاسو وغواړي. د اوريدلو نه د مخه، د محکمي د دادګاه غړي ستاسو د مواظبت په باره کي د روغتون له خوا راپورونو  لولي. د محکمي دادګاه د غړو د جملي څخه يوه کس کيداي شي چه راشي او تاسو سره خبري وکړي.

که چيري تاسو وغواړي چه د محکمي د دادګاه دپاره درخواست ورکړي تاسو کولاي شي چه دغه ادرس ته وليکي:

The Tribunals Service
PO BOX 8793
5th Floor
Leicester
LE1 8BN

تيلفون: 0300 123 2201

تاسو کولاي شي چه د يوه وکيل څخه پوشتنه وکړي چه محکمي ته ستاسو دپاره وليکي او تاسو سره تر اوريدلو پوري مرسته وکړي.
روغتون او حقوقي د ټولني  د وکيلانو يو لست لري چه څوک په دغه کي متخصص دي.  تاسو مجبور نه يي چه د مرستي د پاره يوه وکيل ته پيسي ورکړي.  دغه د قانوني مرستي د پلان په اساس چارج نلري او مفت دي.

## اجازه ورکړي چه ستاسي نژدي قريبان وپوهيږي

د دغه نشريه يوه کاپي هغه کس ته ورکول کيږي چه د دماغي روغتيا لايحه ووايي چه دغه ستاسو نژدي قريب دي.

دلته د دماغي روغتيا  په لايحه کي د خلکو يوه لست دي چه کوم کسان ستاسو قريبان دي.   پر طبعي ډول، هغه شخص چه په لست کي ليکل شوي  هغه ستاسو  نژدي قريبانو څخه ګڼل کيږي. د روغتون کارکونکو کولاي شي چه تاسو ته يوه نشريه ورکړي چه په هغه کي تشريح شوي چه ستاسو نژدي قريبان ستاسو د مواظبت او اعلاج په ارتباط څه حقوق لري.

| |
|---|
| |

که چيري تاسو نه غواړي چه دغه سړي يوه کاپي د نشريي تر لاسه کړي، لطفاً خپل نرس او يا د کارکونکي ډلي بل غړي ته ووايي.

## ستاسو د نژدي قريبان بدلول

که چيري تاسو فکر کوي چه دغه ستاسو د نژدي قريبانو په حيث يو مناسب سړي نه دي، تاسو کولاي شي چه د مربوطه محل په محکمه کې د يو بل کس دپاره درخواست وکړي چه هغه وکولاي شي ستاسو د نژدي قريب په عوض چلند وکړي. د روغتون کارکونکي کولاي شي چه تاسو ته يوه نشريه درکړي چه په هغه کې دغه تشريح شوي دي.

## ستاسو ليکونه

هغه ټول ليکونه چه تاسو ته راغلي دي د هغه وخت نه چه تاسو په روغتون کې ئې تاسو ته درکول کيږي. تاسو کولاي شي چه هر چا دپاره خط وليږي پرته له هغه کسانو څخه چه دوي ويلي دي چه دوي نه غواړي ستاسو له خوا ليکونه واخلي. ليکونه دغو خلکو ته د روغتون د کارکونکو له خوا ځنډول کيږي.

## د تمرين کود

دلته د تمرين يوه کود دي چه د روغتون کارکونکو ته چي د دماغي ناروغي درمان کوي د دماغي روغتيا د لايحي په باره کې مشوره ورکوي . کارکونکي مجبور دي چه کود تر کتني لاندي ونيسي چه کود څه ويلي دي کله چه دوي ستاسو د مواظبت په هکله تصميم نيسي. تاسو کولاي شي چه غوښتنه وکړي چه د کود يوه کاپي د کتلو د پاره درکړي، که چيري تاسو وغواړي.

## څنګه زه شکايت کولاي شم ؟

که چيري تاسو وغواړي چه د ځني شيانو د سرته رسولو په باره کې چي په روغتون کې ستاسو د مواظبت او علاج په اړوند دي، شکايت وکړي ، لطفاً د کارکونکو د يوه غړي سره خبري وکړي. کيداي شي چه دوي وکولاي شي چه موضوع حل کړي . همدا راز دوي کولاي شي چه تاسو ته د روغتون د شکاياتو د طريقي په باره کې معلومات درکړي، چه تاسوو کولاي شي د هغه نه په استفادي خپل شکايات د هغي لاري حل کړي چه د داخلي حل په نامه ياديږي. همدا رنګه دوي کولاي شي چه تاسوته د ځني خلکو په باره کې چه هغوي کولاي شي ستاسو شکايت ته رسيدګي وکي خبري وکړي.

که چيري تاسو احساس ګره چه د روغتون د شکايات روش نه شي کولاي چه تاسو سره مرسته وکړي ، تاسو کولاي شي چه د يوه مستقل کمسيون له لاري شکايت وکړي. کمسيون نظارت کوي چه د دماغي روغتيا د لايحي څخه څرنګه استفاده کيږي ، اطمنان تر لاسه کوي چي دغو مقرراتو څخه په صحح توګه استفاده شوي او دغو ناروغان ته له هغه وخت څخه چه دوي په روغتون کې دي په صحح توګه توجه شوي ده. د روغتون کارکونکي کولاي شي چه تاسوته يوه تشريح شوي نشريه درکړي چه څرنګه کمسيون سره ارتباط پيدا کړي.

## زيادتر مرستي او معلومات

که چيري دلته ځني شيان ستاسو د مواظبت او علاج په باره کې وي چه تاسو په هغه کې نه ياست پوه شوي، د کارکونکو يو غړي کوشش کوي سره تاسوته مرسته وکړي. لطفاً د کارکونکو د يوه غړي څخه غوښتنه وکړي چه ستاسو د پاره يې تشريح کړي که چيري ځني شيان په دغه نشريه کې ستاسو دپاره واضح نه وي او يا تاسي په هغه پوه نشي او يا که چيري تاسو بله پوښتنه لري چه دغه نشريه ځواب نه ورکوي .

لطفاً پوښتنه وکړي که چيري تاسو علاقمندي لري چه د دغي نشريي يوه بل کاپي د يو بل چا دپاره ورکړي.